P-357

PR X (01) 23

# پښتو (نوے کورس)

**10th (Fresh / Reappear)**

نوټ:- دویمے او دریمے برخے دَ پاره وخت دوه گهنټے او څلویښت منټه دی۔

## دویمه برخه

نمبرې: ۳۶

سوال نمبر II: په لاندینی جزونو کښې دَ نهه (9) سوالونو مختصر ځوابونه اولیکئ. د هرسوال نمبرې برابرې دی.

(۱) زمونږ دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په حسن اخلاقو باندې مختصر نوټ اولیکئ.

(۲) بادشاه د فقیر جونګړې ته ولې ورغلو او د فقیر نه ورته څۀ حاصل شول؟

(۳) دَ زمکې دَ جوړښت او شکل باره کښې د ناپوهه خلقو څۀ خیالات وو؟

(۴) دَ امن په موضوع خپل خیالات څرګند کړئ.

(۵) دَ وطن په مینه مستې څلور تپې ولیکئ.

(۶) پښتو چاربیته باندې زړه پورې نوټ اولیکئ.

(۷) ظفر خان دَ شاعر خوشحال خان خټک عظمت په کومو ټکو کښې بیان کړې دی؟

(۸) مولانا عبدالقادر ته قاضي محمد سعید په څۀ وجوهاتو موزون استاذ ښکاره شو؟

(۹) د ورکړې شوؤ لفظونو اپوټه اولیکئ. مینه، چُپ، ستائینه، خندا

(۱۰) دَ شاعر سمندر خان سمندر په خیال جنت په څۀ موندے شي؟

(۱۱) ... دَ رواياتو په بدلون څۀ اثر غورځوي؟

(۱۲) ... دَ ... وصولو ... ولیکئ.

## دریمه برخه

نمبرې: ۲۴

نوټ:- په لاندینی سوالونو کښې ددریو سوالونو ځوابونه اولیکئ. دَ هر سوال نمبرې برابر دی.

سوال-III لاندنی عبارت په اسانه او روانه پښتو کښې او لیکئ.

دَ کرنسۍ پانه دَ هغې وطن درنه وي چې معاشي او سیاسي طاقت یې زیات وي. پخوانو قامونو ... دَ دنیا حکومت کولو او دَ نن دنیا باداران هغه اولسونه دي چې دَ کرنسۍ زور یې سیوا وي. دغه وجه ده چې دَ ځینو پانړو دَ وزن دَ لاندې دَ نړۍ دَ خوارو اولسونو سرونه ټیټ شوي دي.

یا

دَ دوست محمد خان کامل مومند په خدماتو رڼا واچوئ.

سوال-IV دَ لاندینی شعرونو تشریح په آسانه پښتو کښے اولیکئ.

په عمل کښې موندۀ کیږي هم ثواب و هم وبال

په انسان کښې خالق ایښي بدرنګي او هم جمال

یا

تل به وي سرخرویه دَ فاتح په نوم چا چې لۀ خپل خانه بغاوت و کړو

مینه نه پریږدم رقیب ته چپ به شم ستا په خلۀ مې دومره مروت او کړو

سوال-V تاسو خپل یو ملګري ته خط اولیکئ او خپل تعلیمی مصروفیات بیان کړئ.

یا

خپل هیډ ماسټر صاحب ته دَ اسکول داخلې دَ پاره درخواست اولیکئ.

سوال-VI دَ لاندینی عبارت په پښتو کښې ترجمه وکړئ.

آپس کی نااتفاقیوں نے ہماری قوم کو نہایت ضعیف اور ٹکڑے ٹکڑے کر دیا ہے ... ہماری قوم ... رہی ہے۔ قومی امور کے سرانجام دینے میں اس نالائق نااتفاقی نے بہت کچھ اجر بد پہنچایا ہے۔ ہم سب آپس کی محبت سے اس ... اور اتفاق کو ... سے مبدل کریں۔

یا

په لاندینو کښې په یو باندې نوټ اولیکئ.

۱) الف جان خټکه ۲) سید تقویم الحق کاکا خیل ۳) ډاکټر محمد اعظم اعظم

www.ilmkidunya.com